ژوندون به اسلامي ارزښتونو ... (masthead motto)

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

نمبر مسلسل (١٣٢٠) سال نزدهم شمارۀ (٢٢٦) یکشنبه (١٤) دلو ١٣٧٥ هـ .ش (٢٤) رمضان المبارک ١٤١٧ هـ .ق (٣) فبروری ١٩٩٧م

الهی لاربنوونې

اوکله چې بندگان چې ځناپ هکله دربه پوښتنه وکړي نو ... چې زه نږدې یم چې کله مې کوم دعاکوونکی وبلي دعائې قبلوم . نوماله دي است ...) وکړی اوپه مادی باورولري ترڅو دوی رشد ومومی (دکمال په لوری هدایت ... تاسوله دخپلو سخولوري له دروژې دشپې نږدیکت (کورواله) رواکړی شو .

دوی تاسوله پوشاك اوتاسو دوی لره پوشاك یاست . الله پدې پوه شو چې تاسو خپل ځان سره خیانت کولو نو (له خپل رحمت سره) په تاسو راوگرځید اوله تاسونه ئې تیریدنه (عفوه) وکړه . نو اوس ورسره نږدیکت وکړی او هغه څه وغواړی چې الله درته لیکلی (اولاد) اوترهغه وخوری اوڅښئ چې دسباوون سپینه کرښه له توری کرښی نه درته ځرگنده شي . اومباشرت (نزدیکت) ورسره مه کوی پداسی حال کی چې تاسو په جماتونو کی معتکف یاست داالله حدود دی نومه ورنږدې کیږی همدارنگ الله خپلی نښی خلکولره څرگندوی ترڅو تقوی وکړی اوخپل مالونه په خپلو منځونو کی په ناحقه او(ناروا طریقی) مه خوری اوواکدارانوته ئې ددې لپاره مه رسوی (مه ورکوی) چې دنوروخلکو دمالونوڅه برخه په گناه سره وخوری پداسی حال کی چې پوهیږی .

وحدت اوطالبان سره مخامخ شول

دوحدت اسلامی منابع وایی چې دوی دطالبانوحمله په شاتمبولې

بامیان د سلراغې (١٣) مه :

د بامیانو او پروان ولایت په پولوکی د طالبانو او دوحدت اسلامی د ځواکونو ترمنځ نوی جگړی پیل شوی .

د خبری منابعو د ریوټ له مخی د تیری جمعی په سهار طالبانو د قطارخاك او دوآب په سیمه کی د وحدت اسلامی په مواضعو پراخه تعرضی برید پیل کړ چې په نتیجه کی د کلك مقاومت سره مخامخ اوبریدئی شند کړشو . په ایران کی د د وحدت اسلامی استازی تیره شپه د زاهدان راډیو ته د بوی لنډی مرکی په ترڅ کی څرگنده کړه چې جگړه لومړی د طالبانو له خوا پیل شوه او ورسته د وحدت اسلامی د ځواکونو د کلك مقاومت په نتیجه کی د دوی حمله له ماتی سره مخامخ شوه .

ناطقی زیاته کړه چې جگړی تن او پرون هم ترناوخته دوام درلود او تراوسه د جگړی په اړه لیکوکی کوم بدلون ندی راغلی له بلی خوا په پیښورکی د وحدت اسلامی نماینده داکترطالب ورمه شپه د یوی مرکی په ترڅ کی ووبل چې وحدت اسلامی له طالبانو سره هیڅ مشکل نلری اوکه طالبان

پاتی د٤د مخ د٤د ستون

داکتر عبدالله :

مسعود پایگاه خود را از پنجشیر انتقال نکرده است

جنگ دردامنه پنجشیر جریان دارد

حملات طالبان درکوهبند عقب زده شد

روزگذشته منابع متعددی گزارش دادند که احمدشاه مسعود پایگاه خود را از پنجشیر به اندراب انتقال داده وتصمیم گرفته ازین منطقه به عنوان پایگاه نظامی خود درمقابل طالبان استفاده کند.

داکترعبدالله سخنگوی احمدشاه مسعود اظهار داشت خبرانتقال پایگاه احمدشاه

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

طالبانو دتگاب په ولسوالی کی ددفاع شورا دځواکونو یو برید شنډ کړ

کاپیسا دسلراغې (١٣)

طالبانو دکاپیسا ولایت مربوط دتگاب په ولسوالي کي ددفاع شورا دځواکونو یو برید شنډ کړ

دشریعت غږ راډیو درپوټ له مخي پرون سهار طالبانو دتگاب ولسوالي په مربوطاتو کي ددفاع شورا دځواکونو یو برید شنډ کړي او له هغوي څخه یې په پوره کوماز موټر سربیره (٥) کسه ژوندي نیولي دي

در راه عبور از سالنگ :

طالبان باموانع برخوردند

طالبان ازهروسیله ممکن برای نابودی دوستم استفاده میکنند

احتمال انفجار راه های ارتباطی غوربند به شمال کشور موجوداست

اخراج مردم پروان کاپیسا به ضررطالبان انجامید

کابل ١٣ دلو :

درحالی که در شدت جنگ ها در شمال کابل هیچگونه کاهشی به عمل نیامده ، طالبان اعلان کرده اند که بزودی برعلیه نیروهای جنرال دوستم به اقدام کاری متوسل خواهند شد.

منابع طالبان گزارش می دهند که (عنقریب عملیات مسلحانه طالبان به آنطرف کوه هندوکش آغاز می یابد تاجنرال دوستم را که بگفته طالبان دشمن مردم افغانستان است سقوط دهند .

اداره طالبان درکابل اعلان کرده که هرگونه ائتلاف باجنرال دوستم محال بوده و طالبان ازهروسیله ممکن برای نابودی وی استفاده خواهند کرد .

رادیوشریعت گزارش داد که ملامحمد ربانی سرپرست شورای طالبان درکابل با هئیت علمای جوزجان که مرکزعمده جنرال دوستم می باشد دیدارنموده ورواجع به اوضاع ولایات شمال افغانستان گفتگوی تفصیلی به عمل آورده است.

منبع گفت دراین دیدار هیئت علمای جوزجان حمایت خود را از اداره طالبان اعلان داشت .

بقیه صفحه (٤) ستون (٥)

شورای امنیت از ادامه جنگ در افغانستان نگران است

گروه های متحارب اختلافات شان را از طریق مسالمت امیز حل نمایند

نیویارک - ١٣ دلو

شورای امنیت سازمان ملل متحد ضمن ابراز نگرانی ازادامهٔ جنگ در افغانستان از گروه های متحارب افغان تقاضاکرده است اختلافات شان را با صرف نظر ازراه حل نظامي ازطریق مذاکره ونشست باهمي میان خویش حل نمایند.

طبق گزارش ،این مطلب را سکرتر ومسؤل شعبه حقوق بشر شوراي امنیت

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

براساس گزارش سالیانه وزارت خارجه امریکا درمورد وضع حقوق بشر:

درافغانستان سلطه قانونی وجود ندارد

همه گروه ها مسئول نقض حقوق بشرانـد اماطالبان بیشتر اند

طالبان مرتکب قتل های سیاسی فراوانی شده اند

پشاور -١٣ :

وزارت خارجه امریکا طی گزارشی درمورد وضع حقوق بشر در افغانستان گفته است : عدم سلطه قانون وموسسات مدني باعث تخلفات صریح از رعایت حقوق بشر وقتل های فراون سیاسی شده است .

طبق گزارش منابع خبری بین المللی وزارت خارجه امریکا دراین گزارش تخطی از حقوق بشر توسط همه گروه ها را تذکرداده اما بصورت مشخص ازطالبان که کنترول مناطق شهری را بدست دارند انتقاد شده است و گزارش می افزاید: بالای زنان محدودیت هایی وضع شده است که زنان

بقیه درستون «٦» صفحه «٤»

طالبان درتصمیم گیری شان مستقل نیستند

استاد ربانی

تهران ١٣ دلو

گروه طالبان به استقرار صلح در افغانستان علاقمند نبوده بلکه باادامه جنگ در افغانستان میخواهد قدرت وحاکمیت خود راتداوم بخشند .

مطلب فوق را استاد برهان الدین رباني در مصاحبه یي ابراز داشته که در روزنامه "نواي وقت" چاپ پاکستان انعکاس یافته است . وي افزوده است . طالبان با عدم شرکت درکنفرانس تهران بهترین فرصت براي استقرار صلح در افغانستان را از دست دادند واین ادعاي انان راکه ازآنها

بقیه درستون «٣» صفحه «٤»

دغوربند په دره کی :

طالبانو دچهار دهی ، سیاگرد اوشینتوارو سیمی ونیوی

پروان دسلواغي (١٣)

طالبانو دکابل په شمال کي له وروستیو بریالیتوبونو وروسته دغوربند د ولسوالي مربوط دچهار دهي ، سیاگرد اوشینتوارو سیمي ددفاع شورا له ځواکونوڅخه ونیولي .

دنړیوالو خبري آژانسونو درپوټ له

پاتی (٤) مخ (٣) ستون

په پاکستان کی گڼ شمیر افغانی مهاجرین په هیروئینو اخته دي

دهیروئینو اعتیاد یوه اجتماعی مسئله ده ،اوکنترول یی یوه اجتماعی نظم او پروگرام ته اړتیا لری

دافغان رفاهي مرکز مشر

اسلام آباد -

په پاکستان کي دهیروئینو په مخدرومرادو معتاد شویدي . دغه خبره داکتر رحیم پښتونیار له امریکاغږ سره په یوه مرکه کي کړیده .

داکترپښتونیارروایي دمخدره مرادو اعتیاد یوه اجتماعي مسئله ده اومختنیوي هم له یوه منظم اجتماعي پروگرام ته پرته په بل ډول نشي کیداي .

داکترپښتونیار وایي چې ده لمرکاله وراندي په پیښورکي په مخدره موادو باندي اخته افغانان ولیدل اوه یوواکتر په حیث یې داوظیفه وگڼله چې ددې مرض چاره باید

پاتی «٤» مخ «٦» ستون

ممنوعیت پوشیدن چادر درترکیه لغو می شود

انقره -

نمایندگان بخاطر تعدیل قوانین غیرمذهبي ترکیه روي دست گرفته شده ولایحه اجازه یافتن زنان براي پوشیدن چادر درمراکز تعلیمي وادارات رسمي دولتي عنقریب به پارلمان این کشور ارایه خواهد شد .

به گزارش آژانس خبري فرانسه لطفواسنگن وزیردولت ترکیه که یکي از همکاران نزدیك نجم الدین « اربکان »

بقیه درستون «٤» صفحه «٤»

میزان بیکاری در آلمان روبه افزایش است

آلمان -

میزان فزاینده بیکاری در آلمان تلاش های دولت برای کاهش کسربودیجه و اجرای ضوابط پول واحد اروپا را با تهدید روبروساخته است .

قرارگزارش خبرگذاری فرانسه، گزارش اقتصادی سالانه دولت آلمان که روز گذشته ارائه شد حاکی ازآن است که میزان فزاینده بیکاری درین کشورتلاشهای دولت برای کاهش کسربودیجه واجرای ضوابط پول واحد اروپا را باتهدید روبرو ساخته است .

بقیه درستون «٣» صفحه «٤»

به اساس تحلیل روزنامه واشنگتن پست :

تاحال معلوم نیست کدام گروه افغان بردیگری تفوق نظامی کسب میکند

تاهنوز نمی توان گفت که ائتلاف ضد طالبان شکست خورده است

یکی از عوامل پیشرفت طالبان انتشار درصف مخالفین وتورم پولی درشمال کشور است

واشنگتن -

درحالی که پیشروی چشم گیرطالبان به صوب شمال کابل این احتمال را تقویت بخشیده که ائتلاف ضد این گروه توان مقابله باطالبان را ندارد ، اما نیروهای جنرال دوستم بامنفجرساختن قسمتی ازتونل ستراتیژیك سالنگ مصمم اند جلوپیشروی طالبان را بگیرند .

«بقیه درستون «٧» صفحه «٤»

دوکتور ولایتی :

ایران آرزومند استقرار صلح درافغانستان است

تهران -١٣ دلو:

دوکتورعلی اکبر ولایتی وزیرامور خارجه ایران به سلسله دیدار هایش با رهبران گروههای افغان روز گذشته با شیخ آصف محسنی رهبرحرکت اسلامی،محمد اکبری رهبر حزب وحدت واکبری، وسیدمنصورونادری، رهبرفرقه اسماعیلیه بطورجداگانه درتهران دیداروگفتگوبه عمل آورد .

بقیه درستون «٣» صفحه «٤»

دپاکستان دجماعت اسلامی امیر قاضی حسین احمد :

امریکا په افغانستان کی په ځرگنده لاس وهنه لاس پوری کړی

افغانی ډلو ته مومشوره داده چی خپلی ستونزی دخبرو له لاری حل کړی

پیښور - دسلواغی (١٣)مه :

د پاکستان د جماعت اسلامی امیر قاضی حسین احمد دخپل گوند د پلویانو په یوه لویه غونډه کی د پاکستان له مسلمان ولس څخه وغوښتل چي د امریکا د دسیسو شنډولو په خلاف په جبلونکی سره یو موټی شی او په گډه د امریکا

پاتی (٤) مخ (٢) ستون

دپاکستان دمسلم لیگ گوند مشردایران له سفیر سره په کتنه کی :

دلاهور پیښه به دپاکستان اوایران په دوستانه اړیکو اغیزه ونکړی

زمونږ پالیسی داده چی دافغانستان ستونزه د سوله ایز حل ومومی

اسلام آباد - دسلواغی (١٣):

د پاکستان د مسلم لیگ گوند مشر میانوازشریف په اسلام آباد کی د ایران له سفیر مهدی اخندزاده سره وکتل .

د زاهدان راډیو د ریوټ له مخی دا کتنه چې د تیری جمعی په ورځ ترسره شوه د

پاتی «٤» مخ «٧» ستون

تقویت روزافزون نیروهای دفاعی ایران منافع امریکا راتهدید می کند

واشنگتن - ١٣ دلو

جنرال نیفورو فرمانده عمومي قواي مسلح امریکا ادعا کرده است که پاکستان از اقدامات وتحرکات نظامي ایران درمنطقه نگران است وبه همین ارتباط مراتب نگراني اش را به حکومت امریکا اظهار داشته است.

روزنامه " نواي وقت " باچاپ این گزارش در ادامه نوشته است . جنرال نیفورو گفته است براي محدود کردن قوت نظامي ایران اقداماتي روي دست گرفته خواهد شد زیرا امریکا نیز از تقویه روزافزون قوت نظامي ایران نگران بوده

بقیه صفحه (٤) ستون (٢)

ایران آماده مذاکره باطالبان مقیم پاکستان است

اسلام آباد -١٣ دلو :

سفروزیر خارجه پاکستان به تهران موفقیت آمیزبوده و هدف از آن تشویق گروه های افغان به تفاهم و مذاکره بوده است .

بقیه صفحه (٤) ستون (١)

نیروهای طالبان توپ دی سی (D-30) را بخاطر آتشباری برمواضع مخالفان درشمال کابل عیار میسازند

د بهاندافعه سلاب سیلاب ...
شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مـوسـس: انجنیرحکمتیار
نـاشـر: ریاست ارشادوفرهنگ
تحت نظر هیئت تحریر
تـلیفـون: (۲٦۲٤۸۷)
آدرس پستی: ۱۰۳٦ یونیورستی تاون -پشاور

د پاکستان انتخابات او د افغانستان بحران ...!

سباته دپاکستان عمومي انتخابات ترسره کیږي او دملي او ایالتي اسامبلو لپاره په یوه ورځ رائي اخیستلی کیږي . اصلی مقابله د مسلم لیگ او پیپلزپارټي د گوندونو ده چي د لومړنی مشرتوب نوازشریف کوي او د دوهم بې نظیربوتو - داچي انتخابات به څوك گټي او په څومره اکثریت به ئي گټي، که څه هم تر وخت مخکي خبره ده خو تراوسه چي کومي سروي گانی شوي دی ، او انتخاباتي مبارزي څه ښيي اود هغوله مخي په ډيرقوت سره ویل کیږي چي د نوازشریف پله په بې نظیربوتوباندي ډیره درنه ده او گټل ئي یقیني دی - آن تردی چي خلك مخکي له مخی نوموړي ته د صدارت عظمی د چوکۍ مبارکي ورکوي .

دوه ورځې د مخه چي نوازشریف په اسلام آباد کی د اسلامی هیوادونو سفیرانو ته روژه ماتي کړې و ، نو د خدای پاماني په وخت کی هریوه په ډیره خوشحالي ورته ویل چي بل واري به دی د صدارت په دفترکی وینو .

دا ځانته موضوع ده چي موږ د مسلمانانو په توگه طبعاً خوښوو چي پاکستانیانو ته داسی حکومت وربه برخه شي او دځان لپاره داسی قیادت غوره کړای شي ، چي د دوی او اسلام په خیر وی ، خو په موږ پوری اړه نلري چي څوك ځي اوڅوك راځي . موږ افغانانو ته مهمه دا ده چي کوم قیادت را روان دی اوکوم حکومت جوړیږي ، هغه د افغانستان د بحران په باره کی څه نظرلري، له کومی زاويي مطالعه کوي ، څه ډول ورته مطرح دی او په وړاندی ئي څه چلن کوي - که د پاکستان له انتخاباتو او دهغو له نتايجو سره زموږ دملت کومه دلچسپي موجوده وی ، نو هغه همدومره ده اوهغه هم يواځې د انتظار په بڼه کي .

متاسفانه زموږ د دربدره ملت يوه تراژيدي داده چي په تيرو دولسيزو وخت په وخت په دی سوچ کی و چي په هغه اودغه هيواد کی به څه پښيږي ،کاشکی داسی وشي اوهغسی ونشي .د دی علت دا دی چي زموږ قضاياوو او سرنوشت د بهرله ارادوسره پيوند وموند.

او ددی تراژيدي.ټول مسوليت د بدنامراو وطنفرشو کمونستانو په غاړه دی .

اوس چي خارجي وا بستگي په بيلابيلو بڼو او جلاجلا طرفونوکی اوج ته رسيدلی نو په طبيعي توگه زموږ د ولس غوږونه دی ته ځك دی چي پلاني او پلاني هيواد د افغانستان په باب څه فکرکوي او د څه عمل اراده ورسره ده . په همدی وجه د پاکستان د انتخاباتو په برخه کی هم زموږ له ولس سره د لچسپي دا ده چي راتلونکی پاکستاني قيادت به د دوی له هيواد او قضايا وو سره څه کوی .

په دی باره کی بايد په لنډډول دومره ووايو چي يو خو مخکی تردی چي په دی غور وکړو چي اسلام آباد د افغانستان په باب څه کوی ، بايد دا مطالعه کړو چي زموږ د هيواد په ارتباط د واشنگټن اجندا څه ده .

بله خبره دا ده چي څو ورځی د مخه چي په پاکستان کی د «دفاع اوامنيت» کومه شوری جوړه شوه ، هغه ددی هيواد ډيره مقتدره مرجع ده . جمهور رئيس رياست په غاړه لري او صدراعظم او د پوځ مشران ئی غړی دی . د ټولو مهمو موضوعاتو په باره کی به د تصميم مشوره حکومت ته همدا شوری ورکوی ، پوځ اټکل او ذهنيت دا دی چي نوموړی شوری به د راتلونکی حکومت په دوران کی هم ادامه کوی . په همدی بنا واضح ده چي د دی شوری په موجوديت کی د پاکستان د مهموسياستونو په باب دا ډيرتاثيرنلری چي صدراعظم احمد وی که محمود .....!

چرامواضع امریکا برای انصراف از شناسایی حکومت طالبان جدی شده میرود؟

سرکاتب

به طبا هرامرکه نگاه می کنیم «درخواست آتش بس وآغاز مذاکره وتفاهم میان طرفهای درگیرافغانستان»موضع جهانی وبین المللی پیداکرده است . درکنفرانس صلح تهران که این هفته اختتام پذیرفت درخواست آتش بس در افغانستان سرآغاز قطع نامه کنفرانس بود وهمینطور خانم رابین رافیل معاون وزارت خارجه امریکا درامور آسیای میانه که سه روزقبل (۹دلو) در کنفرانس منطقه ئی سفرای امریکا متعقده شهرو«داکه» سخن میگفت نیزخواستار آتش بس شد .

لحن خانم رافیل اینبار در مورد طالبان جدی تر ازگذشته بود. خانم رافیل تا حال چند بار گفته است که امریکا از شناسایی حکومت طالبان معذرت میخواهد ولی درکنفرانس داکه کلمه«هرگز» را بربیانات سابقه اضافه نمود و خاطر نشان ساخت که «ایالات متحده حکومت طالبان را هرگزبرسمیت نخواهد شناخت » . کلمه هرگز«قید» ابدی را میرساند یعنی اگرطالبان بعوض اینکه در تمام امورات شان مطابق سیاست وسلیقه امریکا اصلاحات بیاورند ، بازهم فیصله امریکا برین رفته که حکومت طالبان را برسمیت نشناسد.

سوال این است که وقتی کشورهای همسایه ودرسطح بین المللی امریکا با این قاطعیت ازوجوب آتش بس در افغانستان صحبت میکند چراجنگ در افغانستان متوقف نمیشود و گروه طالبان چگونه امید پیدا میکند که بدون درنظرداشت فیصله این کشور ماشین جنگ خود را گرم نگهدارد .

گسترش یافتن ابعاد جنگ و ترسیل مواد و تدارکاتی که ازخارج برای پیشبرد این جنگ میرسد بیانگراین واقعیت است که طرفهای حمایت دهنده طالبان ودریك مقیاس کشورهای که جانب شورای عالی دفاع را کمك

افغانهاي متمايل به غرب وامريكااينروزها ، از رويكارشدن حكومتي تازه صحبت ميكننداينطور وانمود ميسازند كه گريا همه چيز آماده شده وفرصتيكه طالبان بايد به پايان ماموريت شان برسند واقتدار را بيك حكومت غيرمذهبي متشكل ازروشنفكران طرفدار غرب منتقل نمايند فرارسيده است

میدهند تا حال برای اختتام جنگ درافغانستان نه تنها تصمیم نگرفته اند بلکه حصول مقاصد شانرا درانکشاف مزید اوضاع جنگی منوط و مربوط دانسته اند .

بسیاری ناظران جدی شدن امریکا را بر سرانصراف اینکشور ازشناسایی اداره طالبان به این پیوند میدهند که گویا تحرکات اخیرطالبان اختتام ماموریت آنها را نزدیك کرده وعمررویکار بودن طالبان را برصحنه اقتدارکوتاه ساخته است .

اینکه سران طالبان باربار اظهار داشته اند که وظیفه مهم آنها تامین امنیت وجمع آوری سلاح می باشد دیگرواضح میشود که با فتوحات اخیر و بانزدیکی احتمالی پایان مقاومت مخالفین دلیلی برای حضوردوام بیشتر طالبان درصحنه سیاسی باقی نمیماند .

شاید در اثر همین احتمالات است که برخی عناصر افغان و متمایل به غرب این روز ها از رویکار شدن حکومتی تازه صحبت میکنند و اینطور وانمود میسازند که گویا همه چیز تقریباً آماده شده و فرصتیکه باید طالبان به پایان ماموریت شان برسند و اداره را بیك حکومت غیرمذهبی و متشکل از روشنفکران طرفدارغرب منتقل نمایند فرا رسیده است . البته درینجا ازذکرنام این عناصر وحلقه ها صرف نظر میشود ولی چیزیکه مهم است موجودیت یك طرزفکر عمومی میان مخالفین جهاد و مخالفین عناصر مذهبی است که همه منتظر سقوط آخرین سنگرهای جهادی و سقوط تشکیلات جنبش شمال نشسته اند ، وبرین باور اند که با حصول این مرام اوضاع دگرگون میشود و گروه طالبان مثل برادران جهادی شان از اریکه قدرت کنار میروند .

با این تحلیل ، جدی شدن لحن خانم رافیل در قبال آتش بس و بعد مساله انصراف امریکا ازشناسایی حکومت طالبان را باید اشاره و انگیزه عمیقتری برای پیشبرد و مقاصد جنگی بدانیم و مصیبت ها و جنگهای زیاد تر وشاید فیصله کن را انتظار داشته باشیم .

در بیانیه اینکه انجنیرحکمتیار امیرحزب اسلامی اخیراً درکنفرانس صلح تهران اظهار داشتند یکجاگفته شده بود که «قدرتهای بیرونی وخارجی هیچگاه علاقه نداشتند که یك حکومت اسلامی در افغانستان رویکار بیاید» معنی این بیان آن استکه قدرتها و کشورهای ذیعلاقه با مساله افغانستان هیچگاه تصمیم نگرفته اند که طرفهای متحارب واقعا سرمیزمذاکره وتفاهم بنشینند وهیچگاه به یك فیصله وتصمیم انساندوستانه برای ختم جنگ و برادرکشی در افغانستان متوسل نشده اند . «جنگ» بعنوان یك محورکلی تا الحال محل ومرکز سرگرمیهایی است که قدرتهای خارجی وخصوصاً امریکا میخواهند درمورد قضیه افغانستان داشته باشند.

اگرامریکا وکشورهای متحد آن بخواهند درافغانستان آتش بس بیاید پس چرا در تدارکات مصارف ومخارج جنگی گروههای متحارب خصوصاً طالبان که درشرایط فعلی بیشتر دعویدار حل نظامی وتحرکات جنگی است تعلل و تقلیل بعمل نمی آورند . به آنچه می بینیم کلید مذاکرات وکلید آتش بس در افغانستان تاحدود زیادی در دست امریکا است . حقیقت این است که امریکا برای صلح و آتش بس در افغانستان زیاد بیان داده ولی درمیدان عمل به اقدامی سازنده دست نزده است .

اینطور نیست که امریکا درمورد ثبات وحرکات و اینکه طالبان چه روش وسلیقه یی دارند بی اطلاع بوده و اینکه حالا با ملاحظه خلاف کاریهای طالبان گویا امید امریکا ازطالبان قطع شده است . وزارت خارجه امریکا وقتی سه روز پس ا زسقوط کابل بدست طالبان ازمقدم طالبان و ازدگرگونی اوضاع در افغانستان اظهار خوشبینی کرد ، مثل حالا ازطرز العمل وتصامیم طالبان اطلاع داشت . ولی امریکا در آغاز برای اینکه اداره طالبان محکم شود و تر انمندی عمومی آنها برا ی جنگ های بعدی و تصفیه نهایی گروه های مجاهدین و مخالفین تقویت شود، برای شناسایی احتمالی طالبان چراغ سبز داد وحالاکه تصورمیکند همه چیزبخوبی پیشرفته و ماموریت طالبان به انجام کارنزدیك شده ازقبول حکومت طالبان بطورجدی انصراف نشان میدهند .

اینطور نیست که امریکا درمورد ثبات وحرکات و اینکه طالبان چه روش وسلیقه یی دارند بی اطلاع بوده و اینکه حالا با ملاحظه خلاف کاریهای طالبان گویا امید امریکا ازطالبان قطع شده است . وزارت خارجه امریکا وقتی سه روز پس ا زسقوط کابل بدست طالبان ازمقدم طالبان و ازدگرگونی اوضاع در افغانستان اظهار خوشبینی کرد ، مثل حالا ازطرز العمل وتصامیم طالبان اطلاع داشت . ولی امریکا در آغاز برای اینکه اداره طالبان محکم شود و تر انمندی عمومی آنها برا ی جنگ های بعدی و تصفیه نهایی گروه های مجاهدین و مخالفین تقویت شود، برای شناسایی احتمالی طالبان چراغ سبز داد وحالاکه تصورمیکند همه چیزبخوبی پیشرفته و ماموریت طالبان به انجام کارنزدیك شده ازقبول حکومت طالبان بطورجدی انصراف نشان میدهند

طبعی است ، اگرگروه های متحارب در افغانستان به مانورهای سیاسی قدرت های بیرونی متوجه نشوند و برای یکدیگراهمیت واحترام قایل نشوند . خصوصاً اگرگروه طالبان که امروز رول بیشترقضیه را در دست دارد درامرصلح وتفاهم پیشقدم نشود وجنگ تهاجمی خود را که قطعاً کشوررا بگرداب فنامیبرد، متوقف نسازد بدون شك خود شان از این گرداب مستثنی نخواهد بود . چندین بار این موضوع در تبصره های شهادت تکرار شده که غلبه طالب برگروه های جهادی وتکمیل ماموریت طالبان در تصفیه گروه های جهادی برای خود طالبان حکم یك حرکت انتحاری را دارد .

سوله اومذاکرات باید دیوابدی او حقیقی ضرورت په توګه ومنل شي

محمدعبید صافي

تراوسه پوري چي دطالبانو اسلامي غورځنګ او ددفاع عالي شورى ترمنځ څومره خبري اتري شوي ټولي بې نتيجي ثابتي شويدي او داسي کومه نښه هم نه ښکاري چي په مستقبل کی دکاميابي اميد ترينه وکړی شي ، ددوارو لوريو دريځونو ترمنځ آسمان اوځمکه فرق دی ، ددفاع عالي شوری دکابل غير نظامي کول ، يو بې طرفه عبوري حکومت جوړول او دعمومي انتخاباتو کولو شرايط وړاندی کوی ،مګر بالعکس طالبان ددفاع عالي شوری يوه غوښتنه هم نه مني ، هغوی وايي : ددفاع عالي شوری دی زموږ حکومت ومني ټول بيت المال دی دطالبانو اسلامي حکومت ته تسليم کړی او له جنګ څخه دی بلا قيد اوشرط لاس واخلی ، ددوارو لوريو دسختو دريځونو په نظر کی نيولو سره داسی معلوميږي چي جنګ به جاري وي ، ډير ی ککری به خاوری کيږي ، ډير کورونه به ورانيږي اوډير بې ګناه وګړی به له سختو کړاوونو اومصيبتونو سره مخامخ کيږي .

ډيره دافسوس خبره داده چي تراوسه پوری هيڅوك دسولي اوخبرو اترو حقيقي ضرورت ته ندی متوجه شوی او هيڅوك نه غواړي چي سوله اومذاکره ديو حقيقي اوبنيادي ضرورت په توګه ومنی بلکي دټول له پاره دسولي اومذاکرې له پروسې څخه دناوړه استفادې دترلاسه کولو ناروا هلي ځلي شوي ، داستاد رباني دحکومت په وخت کی چي له مخالفينو سره څومره مذاکرې اوترونو نه شويدي . په يوه باندې هم عمل ندی شوی بلکي دمرګوني فشار له ختميدلو سره سم بې هرڅه بې د پښولاندی کړی .

که هغه وخت استاد رباني حکومت خبری اتری يو حقيقي او بنيادي ضرورت په توګه دزړه له کومي منلی وای نوداافغانستان مشکل به لاډيرپخوا نه ختم و ، خو ډير افسوس چي درباني حکومت په پرله پسی توګه په تړونونو او مذاکرو دومره ملتوی ووهلی چي دتعهدونو اوخبرو اترو له افاديت څخه يې دخلکو زړونه تورشول ، همداوجه ده چي کله هم دخبرو اترو پروسه پيل شي نو خلك ورسره دکامیابي هيڅ اميدنه تړي .

تراوسه پوری دخبرو اترو ضرورت دسياسي او پوځي ګټي دترلاسه کولو په خاطر استعمال شوی نه ديو حقيقي او بنيادي ضرورت په خاطر ، طالبان ويره څرګندوی چي ددفاع عالي شورا دمذاکراتو په بهانه د جنګ لپاره چمتو والي نيسی او دزړه له کومي نه غواړي چي مذاکرات کامياب شي .

يكار خو داده چي دواړه لوري خپل خپل اسلامي مسؤليت په نظر كي نيولو سره خپل ټول مشكل دجنګ پرځای دخبرو اترو له لاري حل كولو ته ترجيح وركړي ځكه چي اسلام دسولي طرفدار دی ، په قرآنكريم كي سولي ته خير اوجنګ ته شرويل شوی ، ديو مسلمان ژوند دټول انسانيت ژوند تعبير شوی اوديو مسلمان قتل ته دګرد انسانيت قتل ويل شوی ، جنګ له ځانه سره ويرونه تورڅونه غمونه بربادي لوږه تنده اومصيبتونه راوړي ،خوسوله امن ،خوشالي ، محبت ، آبادي اوبركت راوړي ، امن دوطن اوټولني ښكلا ده ، سعادت اوخوش بختي ده بركت اوطراوت دی آخر ولي دڅو ورځو او نه پاتيدونكي اقتدار په خاطر داهرڅه لوګي كړي شي ، ولي دګلونو په شان معصومو ماشومانو آزار واخستلي شي ولي دتورسرو ، سپين ږيرو اوسپين سرو بدودعاته دعوت وركړي شي ، ولي خپلې خوېندي مېندي بی پردي شي اود يوي ګولۍ ډوډۍ لپاره ګدايي ته مجبوره كړي شي .

ددوارو لوريو ترمنځ هيڅ ډول اعتماد او باور نشته ، هريولوری فکر کوی چی مقابل لوری ورسره په چل کی دی او دوخت په ترلاسه کولو به ترينه ګرزوخيژوی ، دافسوس بله خبره داده چی کله يولوری پر بل لږ غوندی قوی وی نو بل لوری ورته هيڅ قدراوقيمت نلری اومصمم وی چی خامخا به يی له پښو نه غورځوی ، د مثال په توګه کله چی داستاد ربانی حکومت يوڅه قوی اوغښتلی و نو په هغه وخت کی يی دخپلو مخالفينو يوه غوښتنه هم نه منله بلکی پدی شکل کی و چی طالبان به دزور له لاری له صحنی نه وباسی ، که هغه وخت دربانی حکومت دطالبانو داغوښتنی چی ربانی دی حکومت پريږدی ، چی کابل غيرنظامی اوبرموقت حکومت دی جوړشي که منلی وای نو شايد چی مسئله به دومره نه وای کرکيچنه شوی ، مګر افسوس په هغه وخت استاد ربانی دخپل قوت په نشه کی له داسی کولو نه قطعاً انکاری شو اوجنګ ته يی ترجيح ورکړه .

اوس چی طالبانو دربانی حکومت پرزولی قوتونه يی دکابل له ښار څخه ډيرلری پښا کړی ، پروان ، کاپيسا ،جبل السراج ګلبهار اوغوربند څخه يی ددفاع عالی شورا ځواکونه ويستلی ، ربانی دطالبانو هغه غوښتنی زمزمه کوی چی پنځه مياشتی مخکی طالبانو داستاد ربانی له حکومت څخه يی غوښتل ، له همدی ځايه معلوميږی چی مذاکرات اودسولی غوښتنی دحقيقی ضرورت په توګه مطرح ندی که په رښتيا سره مذاکرات اودسولی غوښتنی دحقيقی او بنيادی ضرورت په توګه مطرح وای نو بيا مسئله بالکل حل وه ځکه چی پنځه مياشتی مخکی چی طالبانو څه غوښتل هغه نن ددفاع عالی شورا هم غواړی ، مګر داځلی دطالبانو اسلامی غورځنګ دجنګ په ميدان کی برلاسی دی ، ددفاع عالی شورا ځواکونو ته يی په پرله پسی توګه ماته ورکړی ، روحيات يی قوی اومورال يی اوچت دی پخپلی کاميابی مطمين او داومتی دی ، مګر برعکس ددفاع عالی شوری ځواکونه له ماتی سره مخامخ دی ډيره پراخه سيمه يی له لاسه ورکړی مورال يی کمزوری او روحيات يی ضعيف شوی نو ځکه طالبان دخبرو اترو اومذاکراتو ته زړه نه ښه کوی او په زغرده وايی چی ددفاع عالی شورا دی دطالبانو اسلامی حکومت ومنی له جنګ څخه دی لاس واخلی او خپله وسله دی دااسلامی حکومت بيت المال ته وسپاری ، ددفاع عالی شوری سره لدی چی دجنګ په ميدان کی دسختو ماتو سره مخامخ ده مګر بيا هم مصمم ښکاری چی دطالبانو پرمختيا به په شاتګ وی

اوپوځل بيا به دطالبانو په وړاندی خپل موثر اوقوی موجوديت ثابت کړی ،دا الله ته معلومه ده چی راتلونکی وخت کی به څوك خپل مقصد ته ورسيږی اوڅه به پيښ شی ، مګريوه خبره ځرګنده ده چی دافغانستان مسلمان ملت له جنګ نه کرکه لری او له دواړو لوريو څخه اميد اوهيله کوی چی دواړه لوری دی دجوش پرځای له هوش نه کار واخلی ، دسولی اوخبرو اتروحقيقی ضرورت دی په نظر کی ونيسی ځکه چی ملت له جنګ سره هيڅ ډول علاقه نلری او نه غواړی چی ددواړو ترمنځ په جنګ کی بی ګناه وګړی ووژل شی ، بی کوره او بی وطنه شی ، د لوږی ،تندی اويخنی له لاسه خپل ژوند له لاسه ورکړی اودمصيبتونو په ګرداب کی ولويږی .

پکار خو داده چی دواړه لوری خپل خپل اسلامی مسؤليت په نظر کی نيولو سره خپل ټول مشکل دجنګ پرځای دخبرو اترو له لاری حل کولو ته ترجيح ورکړی ،ځکه چی اسلام دسولی طرفدار دی ، په قرآنکريم کی سولی ته خير اوجنګ ته شرويل شوی ، ديو مسلمان ژوند دټول انسانيت ژوند تعبير شوی اوديو مسلمان قتل ته دګرد انسانيت قتل ويل شوی جنګ له ځانه سره ويرونه تورڅونه غمونه بربادی لوږه تنده اومصيبتونه راوړی ،خوسوله امن ،خوشالی ، محبت ، آبادی اوبرکت راوړی ، امن دوطن اوټولنی ښکلا ده ، سعادت اوخوش بختی ده برکت اوطراوت دی آخر ولی دڅو ورځو او نه پاتيدونکی اقتدار په خاطر داهرڅه لوګی کړی شی ، ولی دګلونو په شان معصومو ماشومانو آزار واخستلی شی ولی دتورسرو ، سپين ږيرو اوسپين سرو بدودعاته دعوت ورکړی شی ، ولی خپل خوېندی مېندی بی پردی شی اود يوی ګولی ډوډوی لپاره ګدايی ته مجبوره کړی شی .

راځی چی انسانيت ته ژوند ورکړو ، مظلومو اوکړيدلیو وګړو ته امن اوخوشحالی ورکړو هيواد ته ښکلا اوترقی ورکړو ، ملت ته دمينی اواخوت خوږپيغام ورکړو اوټول سره پخپلو کی دورورۍ په اسلامی فضا کی ژوند ترسره کړو ، همدا د ژوند غرض اومفهوم دی اوهمدا دمسلمان لويه آرزو اوهيله ده .

دوو نظريو ؟ . . .

روحاني ،سياسي ، فرهنګي اواجتماعي قوتونو دزړونو پيمانې بدلې شوي دمسلمانانو عسکري لوړتيا په ټولو عربوحاکمه شوه اوپدغه سيمه کي له خصوصيت سره دمديني منوري په سيمه کښي دقيادت په اعلامقام مفتخرشول . دبدرغزا دانسانيت په ټول تاريخ کي دغيرمعمولي اودېري اوچتي فتحي اونصرت پيښه ده .

دغه غزوه دووقومي نظريو په اساس منځ ته راغله چي يوه په حق وه اوبله دباطل، يوطرف بت پرست مشرکان وو اوبل طرف په الله باندي دپوخ ايمان لرونکي . دغه غزوه دانساني نسل اودجنګي جنون لرونکو طاقتونو لپاره يوسبق ورکوونکي حقيقت دي .

مسلمانانو دحضرت محمد (ص) له قوماندي لاندي دويراوچت نظم اودسپلين مظاهره وکړه اولکه څنګه چي هغه (ص) دجګړي په وخت دصفونو دجوړولو اودښمن دجنګي قوت اونوروضروري رازونو معلومولو کوم مهارت وښود هغه دهغه (ص) دقائدانه صلاحيتونو پوروښانه اړخ دي چي دهغه نه په استفادي سره اوس هم کافردي که مسلمانان دجګړي په وخت اودخپل فوځ دتربيه په هغه ډول کوي لکه څنګه چي دحق اوباطل په دغه لمړي جګړه کي ترسره شوي وو . پدغه ډول حضرت محمد (ص) يواځي مکمل انسان منصف بلکه ديو زحمت کش سپه سالاريه حيث خان ځرګند کړ چي الله تعالي دهغه (ص) دوفاداري له امله هغه (ص) درحمت العالمين په لقب ونازاوه .

(پاي)

ادبي ورمې

چې کشور دافغانانو معطرکا
دهر بیت مصراع مې زلفې د خوبان کړې

رحمان بابا

غزل

چې هیڅ نه د ی مقدرمال زما
په تسلیم مې حال ته راشه مستقبله
د ازل نه تراپیده یوجوته شوه
کائنات یو لمحه زماد وخت ده
د دنیا د ناوې حسن په پرل نه دی
زه هغه یم نورهمه اعتبارات دي
هغه کندچې د فقیریه اوږو ښکاري
ننداره مې په جلال کښې دجمال کا

دا ماګان او مایکرون دي مال زما
له ماضي چې خراج اخلي حال زما
اوس رانښتردي شي د فکر تال زما
د قدرت یوه لمحه ده کال زما
په تندي مې دي د وینو خال زما
له خپل ځانه دي کمال زوال زما
هم په سرد امیرانو شال زما
چي ځپلي دي هرڅوك جلال زما

عین علم شو وجدان وریښې فکر
ده ولته له هغه بحره خیال زما

«د حمزه شینواری له پری روني څخه»

بې نیازه عشق

درځي د فکر کښې په بل لوري واړوو
د عشق د کهکشان په یوه ستوري واړوو
د لمریه پلوشو غوندې د ژوند په سپېره مځکه
.کړو مراندي مره غوټه پرله پوري واړوو
تورونه دی د مینې چې معنې ورکوي ژوند ته
له تور سره د مینې لکه توري واړوو
چې عشق موږ نیازه کړي د لمرله پلوشونه
جنت کښې د توبې په ساړه سیوري واړوو
د ستورو په بهیرکښې په دمینې رهروانو
د شپې چې نرې برخه په ګل اوري واړوو
هغلته چي راوړي د خوشحالي بهارګلونه
پسرلیه یوځوښې به موږهم هوري واړوو

محمد صدیق «پسرلی»
له سپیدي مجلې نه

د ننګونو کور (افغانستان ته)!

لیك : سیدهاشم «هاشمي»

د غیرت کوره ، د ننګونوکوره
اورکښې ستې شوی د جنګونوکوره
کله پردي کله دی خپل سوزی
کله دي زره کله ګوګل سوزوی
په اشارودی تل د بل سوزوی
شوی لوټي لوټي په ټوټونوکوره!
اورکښې ستې شوی د جنګونوکوره
څه ناکردي ګرانه په تارشولی
د چاپه لمسه دکوم خواو شولی.
دېری نادودی ناروا وشولی.
ولیبدلی په سرو وینو کوره
اورکښې ستې شوی د جنګونوکوره
له تاجدا په بل دیارکښې اوسم
ستا د فراق په سوزانګارکي اوسم
څه که په ښکلي بنائسته ښارکښې اوسم
ای ! د ښکلا او د رنګونو کوره
اورکښې ستې شوی د جنګونو کوره
ستاخوشحالي ستا سوکالي غواړمه
تاته له خدایه آزادي غواړمه
ستا په جهان کښې سرلوړي غواړمه
د هاشمي د ارمانونوکوره
اورکښې ستې شوی د جنګونوکوره

رفیع د خوشال په مزار
د خوشال په لیکه

که ته نه و ای دي خرغره ته بل راتلل څوك
په حضور به دی داهسې ژړیدل څوك
ستاکشش ستا جذبه ستامقناطیس دي
ګنه زه څوك دی لوړځای ته رسیدل څوك
هغه درد چې تادرلود ماسره هم شته
ښکیلاك یوی ګنه روس څوك دی مغل څوك
بیا تا اهله خپل له بله سره مل شو
ګنه مینه د افغان څوك وه اویل لحوك
د نفاق درد چې تالیدلا درانه دی
ګنه زه څوك یم اوځوان پاتی کیدل څوك
ته تری لاړی جانکوري زه اکوري ته
که بخت بدنه وي نوموږ څوك وو اوتلل څوك
ستا له لاسه اوس زما لاس ته رسیږي
په دی شان دی کړي د ننګ توره ترل څوك
تا بخپله اجازه «رفیع» ته ورکړه
ګنه زه څوك دی مقام ته راختل څوك

« دحبیب الله رفیع له ژلي او ګولي نه »

احساس

درحمتونو اوبرکتونو بارانونه

د کال په میاشتو کښې مبارکه روژه ډېره بختوره اوبرکتناکه ده په قرآن عظیم کښې یې د نامه یادونه شوي ده ، دغه بختوره میاشت د الله (ج) دبې شانه رحمتونو ، برکتونو او رنګارنګ نعمتونو ډکه ده .

خومره بې شمېره نعمتونه چې په دی میاشت کې رانازلیږي ، هغه په کومه بله میاشت کې نه کیږي ، له همدی امله بې روژې هم فرض کړای شوی دی .

په دی بختوره میاشت کښې یوه مبارکه شپه راځي ، چې د لیلة القدریه نامه یادیږي کوم سړی چې دغه شپه (دقدرشپه) په عبادت کښې تېره کړي، الله (ج) د هغه په اعمال نامه کښې تر زرو میاشتو د زیات عبادت ثوابونه لیکي ، یعني ددغې بختورې میاشتې په هره شپه کښې د رحمتونو، برکتونوثوابونو،مغفرتونو ، نعمتونو اوبخششونوباران وریږي . د پیغمبراکرم صلی الله علیه وسلم لارسوونې دي چې : دروژې په راتګ سره د مؤمن رزق پراخیږي

شیطان بندی او په ځنځیرونوتړل کیږي ، دجنت دروازې پرانستل کیږي او د دوزخ دروازې بندیږي . هره شپه د شپیته زره ګناهکارانوګناهونه بښل کیږي اوله دوزخ نه آزادیږي.

هره ورځ د جنت حوري د روژه نیوونکیوله پاره ځانونه سنګاروي . د روژه نیوونکي ویده کیدل، خوړل، څښل تول په عبادت کې حسابیږي .

ملایکې حتی چې د سمندرونو ماهیان هم د روژه نیوونکیو له پاره د مغفرت دعاکوي .

د نفلي عبادت ثواب د فرضو په اندازه او دیوه فرضي عبادت ثواب له (۷۰) فرضوسره برابرورکول کیږي .

د الهي رحمت دریاب روان وي او دډېرې لږې نیکۍ ډېرزیات ثواب ورکول کیږي .

د الله (ج) خوښي مؤمن ته په برخه کیږي اودعاګانې یې قبلیږي. روژه ماتې ورکوونکې ته هم دومره اجرورکول کیږي ، څومره چې روژه نیوونکې ته ورکول کیږي.

روژه نیوونکې ته د هغه بستره ،ځا مې ، لوښې او سنې خپلې دعاکوي .

د ایمان اوثواب په نیت د روژه نیوونکې پومبنی ټول ګناهونه بښل کیږي .دروژې مبارکې میاشتې پرواتلو خوښیدونکې الله (ج) دقیامت له غم نه بچوي .

د قیامت په ورځ به قرآن عظیم الشان او روژه د روژه نیوونکې شفاعت کوي . و دالله جل عظمة په دربارکښې دعاده ، چې موږ ټولوته ددغې مبارکې میاشتې له برکاتو نه د برخمن کیدو توفیق را په برخه کړي . »

جنت حاصلول

نبوي حدیث دی چې کوم سړی له ډېرې مینې او پېرزوینې له مخې د خپل زوی نوم «محمد» (ص) کیږدي، هغه اوزوی دواړه به یې جنت ته ځي .

ددوونظریو لومړنۍ معرکه

دوهمه برخه

دبدر غزا :

